# رسنيزه خبرپاڼه

## په وروستي يو کال کې څه باندې څلور نيم مېليونه جريبه دولتي ځمکه ثبت شوه

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د دولتي ځمکو بانک برنامې له لارې په وروستي يو کال په ۲۸ ولايتونو کې څلور مېليونه اووه سوه زره جريبه دولتي ځمکه سروې او په سيستم کې ثبت کړې ده.

له دې ارقامو څخه ۳۷۰ زره جريبه په ننگرهار، ۲۳۸ زره جريبه په نيمروز، ۲۳۵ زره جريبه په کابل، ۲۳۰ زره جريبه په بلخ، ۲۱۷ زره جريبه په پکتيا، ۲۰۰ زره جريبه په کندز، ۱۹۸ زره جريبه په کندهار، ۱۹۴ زره جريبه په هرات او پاتې نوره ځمکه په شلو ولايتونو کې سروې او ثبت شوې ده.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په دې توگه د دولتي ځمکو له بانک څخه د گټې په لړ کې تر اوسه د ځمکو اړمنو دولتي ادارو ته په ۲۰ ولايتونو کې ۱۸۹۵۳ جريبه ځمکه انتقال کړې ده. همدا رنگه په کابل، هرات، ننگرهار او لوگر کې پر راستنېدونکيو، کورنيو بې ځايه شويو، د امنيتي او دفاعي ځواکونو شهيدو منسوبينو کورنيو، د يادو ځواکونو برحاله منسوبينو او ښوونکيو باندې ۲۰ زره استوگنيزې نمرې وېشلې ده.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ژمن دی چې د دولتي ځمکو بانک له لارې ټولې ځمکې او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکيتونه ثبت او له هغو د سمې استفادې لپاره د زمينې برابرولو ترڅنگ د غصب مخه هم ونيسي.

د دولتي ځمکو بانک برنامې عملي چارې په ۲۸ ولايتونو کې د افغانستان د ځمکوالۍ چارو تنظيم قانون د يوولسمې او دولسمې مادو او د جمهوري رياست عالي مقام د (٦٦) حکم په رڼا کې روانې دي.

---

د لا زياتو معلوماتو لپاره

حشمت ناصري، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيس او وياند

مبايل: ۰۷۷۸۱۱۱۳۸۵

ايمېل: hashmat.nasiri@MUDL.gov.af